د نړیوالو خصوصي متشبثینو لپاره مرکز

د پالیسی د څېړنو ملي مرکز

# مطبوعاتي خبرپاڼه

## خصوصي سکتور د حکومت څخه غواړي چې د کورنیو تولیداتو د پرمختګ او هڅولو لپاره اوچت ګامونه پورته کړي

نېټه: د تلې د میاشتې ۲۷ مه ۱۳۹۵ کال د سهار ۹:۰۰ بجې
پته: د پامیر سالون- انترکانتیننتال هوتل- کابل، افغانستان

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه، د نړیوالو خصوصي متشبثینو لپاره مرکز (CIPE) او د کابل پوهنتون د پالیسۍ د څیړنو ملي مرکز لخوا د کورنیو تولیداتو د پرمختګ او هڅولو په موخه د ولایتي آجنډاو د وړاندیزونو په رڼا کې د کورنیو تولیداتو د پرمختګ او هڅوني ترنامه لاندې ګردی میز په انترکانتیننتال هوټل کې ترسره کړه، چې په کې د ملي شورا غړو، لوړ پوړې چارواکي، علمي شخصیتونه، د مدني ټولنو، خصوصي سکټور او رسنیو استازي ګډون درلود.

ګډونوال په دې اند دي، چې په افغانستان کې اقتصادي پرمختګ د ګړندي کول لپاره د تولیدي فعالیتونو رامنځته کول، د صنایعو پرمختګ او اړوندو برخو کې پانګونه یو له اساسي لارو څخه شمېرل کیږي. د میز ګډونوال د حکومت څخه وغوښتل، چې د کسبګرو او تولید کوونکو سره د کورنیو تولیداتو د پرمختګ لپاره لا ډېر مرستې وکړي.

په په دغه ګردی میز کې د اړوندو موضوعاتو په هکله خبرې وشوې او په پایله کې ګډونوال د کورنیو تولیداتو د هڅولو په موخه له کسبګرو او تولید کوونکو څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. د دغې غونډې په ترڅ کې هغه ننګونې او خنډونه چې د تولید کوونکو، سوداګرو، پانګوالو او په کل کې د سوداګرۍ، کورنیو صنایعو او اقتصادي پرمختګ په وړاندې شتون لري روښانه او د حل لارو په اړه یې مناسب وړاندیزونه وشو.

د یادونې وړ ده، چې د دې ګردي میز د ګډونوال د مشخصو نظرونو او وړاندیزونو راپور به له اړوندو دولتي اداراتو، خصوصي سکتور، مدني ټولنو، تمویل کوونکي ادارات او رسنیو سره به په راتلونکي کې شریک شي. د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه، د سایپ اداره او د کابل پوهنتون د پالیسی د څیړنو ملي مرکز به له اړوندو حکومتي اداراتو او د پارلمان له غړو سره خپل فعالیت ته دوام ورکوي، ترڅو د وړاندیزونو د تطبیق څخه څارنه او د ولایتي سوداګرۍ اجنډاو په رڼا کې د کاروبار او د کورنیو تولیداتو د پرمختګ یو ګټور چاپیریال رامنځته شي.